اګست 2019ز

بانی باچا خان

# پښتون

چیف ایډیټر
حیات روغانے





چې خازې شنې مې په قبر وې ولاړې
که غلام مړ وم راځئ تو کړئ پرې لاړې
که په خپلو وینو نه وم لمبېدلی
په ما مه پلیتوئ د جومات غاړې
چې قطرې قطرې مې فوج د دشمن نه کا
مورې ما پسې په کوم مخ به ته ژاړې؟
یا به دا ښکلی ملک باغِ عدن کړم
یا به کړم د پښتنو کوڅې ویجاړې

1919-2019

د افغانستان د خپلواکۍ د سلمې کلیزې په ویاړ خاصه ګڼه

بابړه





د افغانستان خاوره چې څنګه د استقلال نه وړاندې د عالمي طاقتونو لۀ خوا د خپلې بقاء جنګ سره مخ وه؛ د استقلال حاصلولو نه پس هم دا سل کلونه افغانانو د استقلال قیمت د خپلو سرونو او خپلو وینو په بیعه ورکړے دے.

زما په خیال دنیا همېشه افغانستان ته د یو عام ملک په سترګه کتلي دي خو افغانستان ته چې "د اېشیاء زړۀ" وئیلے شي نو دا هسې نۀ ده - افغانستان د دنیا د نیمې ابادۍ په منځ کښې پروت دے - افغانستان د جنوبي اېشیاء، منځنۍ اېشیاء، روس او یورپ تر منځ یو مهم کارېډور دے.

دنیا د افغانانو د وینې قرضدارې ده. په کار ده چې دنیا د افغانستان د خپلواکۍ احترام وکړي، افغانستان کښې د سیاسي، جمهوري او انتخابي عمل ملاتړ وکړي او د جنګونو مېدان جوړ شوي افغانستان ته موقع ورکړي چې د جدیدې، مترقي او مهذبې دنیا په امن، خوشحالۍ او ترقۍ کښې کردار ادا کړي.

عوامي نېشنل ګوند د خپلواک افغانستان احترام کوي او دلته د جنګ مخنیوي د پاره د فخرِ افغان باچا خان بابا د عدم تشدد فلسفه یو اخینے حل ګڼي. اے اېن پي خپل منشور کښې د خارجه پالیسۍ په مد کښې ګاونډیانو ملکونو سره بالعموم او افغانستان سره بالخصوص د مساویانه، برادرانه او متوازن تعلقاتو غوښتنه کوي.


دا وخت چې یو خوا افغان امن مذاکرات روان دي او بل خوا د انتخاباتو هلې ځلې پېل شوي دي، دا ډېر مهم دي چې عالمي وروروليي د افغانستان سره څنګ په څنګ ودرېږي. ګاونډو هېوادونو کښې مونږ په تخصیص سره وینو چې کله نه افغانستان بې قراره شوے دے، پاکستان هم بې قراره دے او زۀ وخت په وخت دا خبره کوم چې کۀ افغانستان کښې امن نۀ وي نو پاکستان به هم ناقلاره وي - یو پُر امن افغانستان پاکستان کښې د امن د پاره هم داسې ضروري دے څنګه چې افغانستان کښې د امن د پاره یو پُر امن پاکستان ضروري دے. د دې خطې امن او ترقۍ د پاره په افغان خاوره د اوږدې جګړې ختمولو کښې باید نړۍ خپل کردار ادا کړي.

زۀ د افغانستان اولس، د افغانستان دولت او په دنیا کښې چرته هم چې افغانان ژوند کوي؛ ټولو ته د افغانستان د استقلال د سلو کلونو په دې سفر مبارکي وایم.


اسفندیار ولي خان

مرکزي مشر، عوامي نېشنل پارټي

باچا خان مرکز، پېښور



ډېر خوشحاله یم چې د 'پښتون' مجلې اداره د افغانستان د خپلواکۍ د سلمې کلیزې پهٔ ویاړ د 'پښتون' مجلې ځانګړې ګڼه خپروي.

'پښتون' مجله زمونږ د نړۍ د ستر اجتماعي او سیاسي شخصیت او د هند د نیمې وچې د ازادۍ د لارې د نهٔ ستړېدونکي مبارز خان عبدالغفار خان د ارمانونو، بشر دوستانه مفکورو او د ازادۍ د لارې د مبارزو د سترو اهدافو د خپراوي یو تل پاتې یادګار دی. د دې مجلې لهٔ ادارې دا هیله کېده چې د افغانستان د معاصر تاریخ د دغه ستر جشن پهٔ نمانځنه کښې براخه واخلي.

د باچا خان نوم او ارمانونه د افغانستان لهٔ ټولو ملي او سیاسي جریانونو او هم ویاړونو سره تړلي دي – 'پښتون' مجلې ته ښائي چې دا سپېځلی تړون وپالي او تل ئې ژوندی وساتي.


'پښتون' مجلې چې د هم دغه تاریخي تړون د روایت د تاند ساتلو پهٔ منظور خپله دا ګڼه د افغانستان د اولسونو دغه ستر جشن ته اختصاص کړې، د مننې وړ عمل دی.


زهٔ پهٔ خپل وار د 'پښتون' مجلې دغه ابتکار ستایم، د باچا خان مرکز او د 'پښتون' مجلې کارکوونکو ته مبارکي وایم.

پهٔ درناوي

حامد کرزی

د افغانستان پښتوانی جمهور رئیس


میاشتنۍ رساله
پښتون
پېښاور
چلوونکی عبدالغفار خان


سراج الأخبار افغانیه
محمود طرزی





د افغانستان د خپلواکۍ د سلمې کلیزې په ویاړ

ABC Certified R/No. 492



# میاشتنی پښتون

بانی باچاخان

پېښور

پښتون د نورو سیاسي، ادبي او سماجي مجلو غوندې محض یوه مجله نهٔ ده ـــ د دې مجلې په شا د دې خاورې د یو اهم دور تاریخ پروت دے او دا په خپله سینه کښې د قامي تحریک د یو ژوندي دور امینه مجله ده. دا مجله د باچاخان او د هغهٔ د ملګرو خدائي خدمتګارانو پښتنو ته سپارلے شوے یو سپېځلے قامي امانت دے. دا د پښتون تاریخ هغه ارزښتمنه شتمني ده چې یو خوا د قامي تحریک تسلسل خوندي کوي او بل خوا د غه تسلسل ته دوام ورکولو کښې مهم کردار لوبوي. پښتون د تحریک د فکري او نظریاتي حدونو ساتندویه مجله ده او په هر پښتون د باچاخان، د هغهٔ د ملګرو او د خدائي خدمتګار غورځنګ دا حق دے چې پښتون سره د لیک لوست تړون کله هم غوڅ نهٔ کړي او لوستونکو ته د دې رسولو کښې هم خپل کردار تر سره کړي.

چیف ایډیټر: حیات روغانے
اعزازي ایډیټر: فیصل فاران
مرستیال: نائله شمال، سجاد ژوندون
قانوني مشیر: ارباب عارف ایډوکیټ

درېم دور، څوارلسم کال، 140 ګڼه، اګست 2019ز

| | | |
|---|---|---|
| د اداریې په ځاے | خان زمان کاکړ | 2 |
| د پاڼ او پرانګ منځ کښې | درویش درانے | 15 |
| د ازادۍ سرخېل | ډ. سید وقار علي شاه | 22 |
| د قامي تحریک یوه پېړۍ | ډاکټر خادم حسېن | 36 |
| د افغانستان د تاریخ مهم... | بهاء الدین مجروح | 57 |
| د افغانستان د پولو تاکنه | ډ. حسن کاکړ | 68 |
| د اکتوبر 1917 انقلاب او.... | ډاکټر صادق ژړک | 83 |
| ستر سمونپال... | نبي مصداق | 87 |
| د واکمنۍ او جلاوطنۍ... | داود اعظمي | 91 |
| افغانستان کښې انقلابي... | ډ. فضل رحیم مروت | 97 |
| پان افغانزم: باچا خان او... | ډ. فضل رحیم مروت | 105 |
| 'زما ژوند او جدوجهد'.... | باچا خان | 108 |
| 'پښتون'، استقلال او.... | 'پښتون' | 119 |
| افغالستان او باچا خان | اقبال وزیري | 139 |
| اعلیحضرت امان الله خان | ملک عنایت الله کاسي | 145 |
| ژورنالستیکي او مطبو.... | جانس زړن | 149 |
| سیاسي، ادبي مترقي ارتقاء... | شمس بونېرے | 154 |
| د اصلاحاتو په وړاندې د ستونز... | ولي باز ارین | 162 |
| د خپلواکۍ اتل.... | ډاکټر لطیف یاد | 170 |
| طرزي پېژندنه | ډ. عبدالرؤف رفیقي | 172 |
| طرزي او 'سراج الاخبار' | ډ. عبدالرؤف رفیقي | 178 |
| استقلال کښې د قبائلو ونډه | عبدالرحیم بختاني | 182 |
| د درې مخکښانو یادونه... | نعیم ازاد | 187 |
| د سلام بابا منظوم عقیدت | نور احمد فطرت | 202 |
| اقبال او افغان | نور الامین یوسفزے | 208 |
| اروابناد کاتب او مشروطیت | عبدالغفور لېوال | 215 |
| د افغانستان کرونالوژي | نالیله صافۍ | 218 |
| د فلسفیانه روایت ارتقاء... | بېدار اصلزے | 229 |
| د افغانانو د نفسیاتو جاج... | ډ. همدرد یوسفزے | 249 |
| د افغان کډوالو وجود... | حبیب الله کاکړ | 253 |
| د پښتو افسانې سل کلن.... | اسیر منګل | 260 |
| د زېبا هنرونو ارتقاء.... | محبوب شاه محبوب | 266 |
| د کابل د لیدو حسرت | ډاکټر لیاقت تابان | 273 |
| 'کابل' او 'ډیورنډ لائن' | فیصل فاران | 276 |
| د علومو اکاډمي تاریخچه | | 282 |
| دودیزواله او مدرنیزم | اکبر کرګر | 307 |
| په تاریخ کښې نیمګړې... | ډاکټر اشرف غني | 313 |
| سایکولوژي او ایکولوژي... | عبدالغفور لېوال | 317 |
| کابلي والا (کابلی) | رابندراناته ټېګور | 324 |
| بابړه: حقیقت او شهادت | سالار امین جان | 329 |
| د عدم تشدد په لار | اسرار د طورو | 335 |
| کال 1919ز | عبدالخالق خلیق | 338 |
| څهٔ دردناکه نظاره ده... | عبدالخالق خلیق | 340 |
| مرګیه! مهٔ راځه، درځمه | فدا عبدالمالک | 342 |
| مرثیه د بابړې د شهیدانو | تاج ملوک دلسوز | 345 |
| Waiting for Godot | بېکټ/ ابشاتر | 347 |
| یا دا وکړه یا دا | راحت زاخیلے | 348 |
| دوه وروستۍ خبرې | | 350 |

عبدالله د چارباغ، خانمیر هلالي، بادشاه ګل استاذ، ارشاد پښتون، بارکوال میاخېل، اکبر هوتي

په مخپانه د غازي امان الله خان انځور د پښتون انځورګر حمد الله ارباب د ګوتو دے،
مونږ د مخپاڼې ښېرن سره سم د غه انځور کښې لږ د یجیټل بدلون راوستے دے.

د پښتون دا ګڼه د باچاخان مرکز پېښور نه امن پرنټنګ پرېس چاپ او خوره کړه

مشاورتي کمېټي
افراسیاب خټک، ډاکټر فضل الرحیم مروت، م.ر.شفق، منور سلطانه، انجینئیر اعجاز ایسپزی، شمس بونېری، لیاقت سیماب، سید وقار علي شاه کاکاخېل، نورالامین ایسپزی، ډاکټر سهېل خان، ډاکټر خادم حسېن، سمیع الدین ارمان، خان زمان کاکړ، نورین امان شمع، سلېمان ایسپزی

باچاخان ټرسټ



www.pakhtoon1928.com
leek@pakhtoon1928.com
pakhtoon1928
091-2248594/2246851-3

انلائن اخستو د پاره
bit.ly/pakhtoon1928

د خط، کتابت او مني آرډر د پاره درک
پي او بکس نمبر 306 پېښور

سرکولېشن منېجر: عبد الوهاب
03339596571
باچاخان مرکز، پجګی روډ پېښور

فوټوګرافر: جنېد خان
کمپیوټر چارج: عزیزخان
مخپاڼه: باچاخان مرکز ګرافکس/ډیزائن ډیسک

قیمت 50 روپۍ، د کال چنده 550 روپۍ (پاکستان کښې)

200 روپۍ
100 افغانۍ

| بدل اشتراک | د یوې ګڼې بیه | د کال چنده |
|---|---|---|
| افغانستان | 30 افغانۍ | 300 |
| یورپ | 7 امریکاني ډالره | 70 |
| خلیجي هېوادونه | 12 یو اې اي درهم | 120 |

ډاکټر سيد وقار علي شاه کاکاخېل

# غازي امان الله خان
# د افغانستان د ازادۍ سرخېل

د افغانستان د ازادۍ او د استقلال د جنګ سل کاله پوره شو. دا ازادي د پېرنګي نه غازي امان الله خان ګټلې وه. د امان الله خان دور حکومت لس کاله ؤ. دا لس کاله د افغانستان په تاريخ کښې لکه د يو ځلند ستوري په شان پرقېږي. په دې لاندې څو پاڼو کښې به د امان الله خان د دور حکومت لوي اصلاحي کارونه، د خپل وطن د پرمختګ د پاره چې کومې هلې ځلې ئې کړې دي، د هغې ذکر او په ځاے د ستائينې او د صفت او ثناء د يوې خاصې طبقې په ذريعه د هغې اصلاحاتو د مخنيوي او غندنې د بيان سره سره د هغې واقعاتو مختصر ذکر به کول غواړم چې د کومو په وجه امان الله خان د خپل خوږ وطن په پرېښودو مجبوره کړے شو او ترمرګه پورې بيا خپل وطن ته راستون نۀ شو. د دې ټولو واقعاتو يوه جائزه به اخستلې کېږي چې راروان نسلونه هم د دې کړاوونو نه خبر شي کوم چې دې لوے پښتون د خپل اولس او هېواد د پاره کړي دي او د بده مرغه د افغانستان په تاريخ کښې ورته هغه ځاے نۀ دے ورکړے شوے چې د کوم دے حقدار ؤ.

امان الله خان په کال 1892ز کښې د امير حبيب الله خان کره زېږدلے ؤ. د دۀ مور 'عليا حضرت' بارکزۍ وه او د حبيب الله په کور کښې ئې اهم ځاے لرلو. د حبيب الله دوه نور زامن عنايت الله او حيات الله هم وو خو د دوي مياندې پښتنې نۀ وې. د امان الله تربيت مور بي بي په خپله کولو. د ابتدائي تعليم د پاره ئې 'مدرسه حربيه سراجيه' ته واستولو. په دوو څيزونو کښې د امان الله دلچسپي د ورکوټوالي نه زياته وه؛ هغۀ ځان په بهرنيو چارو پوهول غوښتل. د دې سره سره په حکومتي چارو کښې ئې خاص دلچسپي اخسته. د شروع نه پرې پېرنګيان بد لګيدل. کله چې د خپل سخر 'محمود طرزي' په صحبت کښېناستو نو لۀ پېرنګيانو ئې دا کرکه نوره هم سېوا شوه. په ورکوټوالي کښې ئې دوه وودونه کړي وو. کله چې شپاړس کلن ؤ نو پلار ورته وادۀ وکړو خو دغه وادۀ د څو ورځو نه پس مات شو. دوېم وادۀ ئې د اتلسو کالو په عمر کښې وکړو. د دې ميرمنې نوم ئې 'شهزاد خانم' ؤ او دا د هغۀ د يواځيني زوي هدايت الله مور وه. د زوي د زېږېدو په وخت دا هم په حق ورسېده. درېم وادۀ ئې د محمود طرزي لور 'ثريا خانم' سره وکړو. د دې اثرات د دۀ په ټول ژوند ښکاره وو او دا مېرمنه ئې ترمرګه پورې د ژوند ملګرې وه.

امير حبيب الله چې به کله هم د کابل نه بهر تللو نو په خپل ځاے به ئې امان الله خان د کابل واکمن ټاکلو. په فروري کال 1919ز کښې چې کله حبيب الله د جلال اباد سره نزدې په 'قلعه ګوش' کښې ووژلے شو نو هغه وخت هم امان الله خان د کابل واکمن ؤ. هغۀ چې کله د پلار د مرګ واورېدل نو دستي ئې خزانه او د فوځ انتقام سنبال کړو. جلال اباد کښې د حبيب الله په مړينه د هغۀ د کشر ورور نصرالله د امارت اعلان وکړے شولو. په کابل کښې امان الله خان په تخت کښېناستو. په 21-22 فروري کال 1919ز د امان الله خان د باچاهۍ باقاعده اعلان وشو. بارکزو کښې هم هغۀ شهرت لرلو، د پوځ هم خوښ ؤ او د پښتو قبائيلو سره ئې هم رابطې ښې ساتلې وې – ټولو فوراً د امان الله خان اعلان وکړو. ډېر زر د جلال اباد خلقو هم د دۀ د ملاتړ اعلان وکړو او نصر الله خان ئې د امارت نۀ لرې کړو. امان الله خان هغه په بند کښې واچولو او د هغۀ مرګ په بنديوانۍ کښې وشو.

امان الله خان د باچاهۍ په مسند د کښېناستو سره خپل اولس ته ووئيل چې زمونږ خوږ وطن د مودو راهسې د پېرنګي په پنجو کښې پروت دے، لکه د نورو ډېرو ګڼو افغانانو غوندې دا زما د زړۀ ارمان دے چې خپل هېواد او اولس د اغيارو د پنجې خلاص کړم. هغۀ فوراً د افغانستان د ازادۍ ګټلو د پاره د پېرنګي په ضد د جنګ اعلان وکړو. د خلقو په زړونو کښې هم دا پراتۀ وو. هغۀ لکه چې د خلقو د زړونو خبره وکړه. د ازادۍ بېرغونه جګ شو. د پښتنو قبائيلو لۀ خوا هم د افغانستان د باچا د کلک ملاتړ اعلان وکړے شو. دا جنګ د مۍ کال 1919ز په مياشت کښې وشو. جنګ ډېر اوږد شو ولې اثرات ئې ډېر زيات وو او ډېرې اهمې نتيجې ترې نه راوختې.

په هندوستان کښې هم په دې ورځو کښې سخت اړې ګړې روان ؤ. د هند اولس په ګڼ شمېر کښې د پېرنګي په ضد راپورته شوې ؤ. د پنجاب د امرتسر د ښار د 'جليانواله باغ' خونړۍ پېښه وشوه. په ديارلسم اپرېل په جليانواله باغ کښې ګڼ شمېر بې وسلې او بې ګناه خلق ووژلے شو. د دې سره سره نوي قوانين په هندوستان کښې رائج کړے شو چې د اولس په ضد وو. په عامو خلقو کښې ډېره غټه بې چېنې روانه وه. هر خوا مايوسي خوره وه. د دې سره سره وړومبنې جهانې جنګ نه ستړي شوي پوځيان واپس را روان وو. ټول عالم د اوږد خونړي جنګ نه ستړے شوے ؤ. پېرنګي پوځ بيا دومره زر د افغانستان غونډې د لرې او سخت وطن په اوچو غرونو کښې د بيا جنګ کولو توان نه لرلو. دا ټولې پېښې او واقعات د امان الله خان د پاره ډېر سود مند ثابت شول.

افغان پوځ له دې خوا په هندوستان حمله وکړه. عبد القدوس د جلال اباد له خوا برید وکړو، صالح محمد د کونړ له خوا تابيا وکړه او نادر خان په کرمه کښې راننوتو او د ټل قلعه ئې رالاندې کړه. په اته ويشتم مۍ د جنګ بندۍ اعلان وشو او څو هفتو نه پس په اتلسم اګست کال 1919ز د راولپنډۍ په مقام يوه لويه غونډه وشوه او په دې موقع دا افغانستان د ازادۍ اعلان وکړے شو. دا خبره د يادګيرنې د پاره کول غوارم چې په شلمه مۍ کال 1879ز باندې د افغانستان او پېرنګيانو تر منځ 'معاهده ګندمک' شوې وه؛ د دې معاهدې د لاندې د افغانستان ازادې لاړه وه. د افغانستان خارجه پاليسي پېرنګي په خپله قبضه کښې اخستې وه. دا معاهده پېرنګيانو د امير يعقوب خان سره کړې وه. د نوې معاهدې تر لاندې اوس افغانستان دا حق په بېرته واخستو چې خپل ملګري او دښمنان په خپله وټاکي - افغانستان اوس د نړۍ د يو ازاد مملکت په حېث دنيا پېژندل شروع کړل.

## د امان الله خان خارجه پاليسي:

لکه چې ووئيلے شو، افغانستان اوس يو خود مختاره حکومت ؤ او ډېره موده پس ئې دا حق په بېرته واخستو چې ځان ته خپل ملګري ولټوي. درې هېوادونو سم د لاسه د افغانستان ازادي او خپلواکي ومنله او په پراخ تندي ئې افغانستان ته د ازادو ملکونو په ټولي کښې تود هرکلے ووئيلو. په دې ملکونو کښې روس، ترکي او جرمني شامل وو. په جرمن او ترکي ډېر سخت وخت ؤ. دوي په جهاني جنګ کښې ماتې خوړلې وه او د برطانوي سامراج او د امريکې او د فرانس وغېره په رحم او کرم پراته وو. هغوي پرې خپل خپل متونه کټل خو ولې چې د افغانستان د ازادۍ ئې واورېدل نو فوراً ئې دا منظور کړو. د روس حالات بدل وو؛ هلته د لېنن په مشرۍ کښې ډېر لوے بدلون راغلے ؤ. د زار روس په ځاے اوس هلته د بالشويکو حکومت ؤ. په دې ورځو کښې لېنن خپله ژوندے ؤ او د ټول واک او اختيار خاوند ؤ - هغه په ډېره ګرم جوشۍ سره د افغانستان ازادي ومنله.

امان الله خان د خپل نور حکومت خارجه پالېسي د درې اصولو تابع کړه. هغه ټاکلي شوي اصول دا وو:

1. روس سره ډېر ښه سفارتي تعلقات جوړول او ساتل.
2. د حکومت برطانيه سره هم خپل تعلقات په ورو ورو ښه کول.
3. د اسلامي نړۍ د اتفاق او يو والي د پاره هلې ځلې کول.

أ. په اووم اپرېل کال 1919ز امان الله خان دوه خطونه د روس حکومت ته ولېږل. وړومبے خط د بهرنيو چارو د وزير محمود طرزي د طرف نه د روس وزارت خارجه ته ليکلے شوے ؤ. محمود طرزي د امان الله خان سخر هم ؤ او هغه د پاره يو ډېر ستر لاربنود هم ؤ. هغه په دې خط کښې د روس قدرمند مشر لېنن ته د افغانستان د ازادۍ اطلاع ورکړې وه. دوېم خط د امان الله خان ذاتي خط ؤ چې هم لېنن ته ليکلے شوے ؤ او هغه ئې په ډېره ښه طريقه د خپل وطن د ازادۍ نه خبر کړے ؤ. په دوېمه مۍ د لېنن ځواب راغلو. هغه امير امان الله ته په خصوصي توګه او د افغانستان مېړني اولس ته په مجموعي طور سره مبارکي راستولې وه. هغه د افغانستان سره ډېر زر د سفارتي تعلقاتو غوښتنه کړې وه. هم په دې دوران کښې د افغانستان له خوا يو سفارتي وفد د مشهور هندوستاني انقلابي مولانا برکت الله بهوپالي د مشرۍ لاندې روس ته واستولے شو. هغو ورځو کښې کابل د انقلابيانو مرکز ؤ. دوي دلته نه په اسانه د هندوستان نورو انقلابيانو سره خپلې رابطې ساتلې. امان الله خان د هندوستان د انقلابيانو ډېر زيات مرستيال ؤ او هغوي ته ئې په هر څه کښې خاص اهميت ورکړے ؤ. روسيانو دې افغاني وفد ته تود هرکلے ووئيلو او د دوي د مشاورت په نتيجه کښې ډېر زر د دواړو هېوادونو

په منځ کښې په دیارلسم دسمبر کال 1920ز کښې یو معاهده وشوه چې هغه د اګست کال 1921ز نه پخه معاهده وګنلې شوه. افغانستان د پاره دا ډېره ګټوره معاهده ثابته شوه. روس ورته په خپله خاوره بغېر د څهٔ رهداری د مال راوړو اجازت ورکړو. د دې سره سره روس افغان معاهده کښې دا هم ووئیلې شو چې اوس به هر کال افغانستان ته لس لکهه د سرو زرو روبل (اشرفۍ) امداد ورکوي چې د افغانستان مالي حالت مستحکم شي. افغانستان د روس سره دا لوظ وکړو چې دوي به د روس په ضد هېڅ قسم دفاعي او اقتصادي معاهدې نهٔ کوي او نهٔ به په خپله خاوره د روس دښمنان پرېږدي. روسیانو ته دا هم جازت ورکړے شو چې دوي دې افغانستان کښې پینځهٔ قونصلګرۍ پرانیزي. افغانستان ته د روس لهٔ خوا یو رېډیو سټېشن هم په ډالۍ کښې ورکړے شو. روسیانو دا هم لوظونه وکړل چې دوي به د لارې او پولونو جوړولو د پاره روسي ماهرین او انجینئیران افغانستان ته رالېږي.

ب. په راولپنډۍ کښې دستخط شوې معاهده د کال 1919ز واله څهٔ مستقل معاهده نهٔ شوه ګنلې. د دواړو حکومتونو لهٔ خوا په دې لړ کښې نورې خبرې اترې وشوې. د برطانیه لهٔ خوا د سر هنري ډوبس (Sir Henry Dobbs) په مشرۍ کښې یو وفد کابل ته واستولے شو. د دې وفد کار ډېر زیات ګران ځکه هم ؤ چې هغه وخت په کابل کښې د برطانوي حکومت نه کرکه کوونکي ډېر قوتونه موجود وو چې پکښې مشهور جرنېل د ترکي جمال پاشا هغه وخت د باچا سره ډېر نزدې تعلق لرلو. د هندوستاني انقلابیانو موجودګي هم په کابل کښې برطانوي حکومت د پاره د پرېشانۍ سبب ؤ. د وفد غړو دا ګران کار اسانول غوښتل. دوي په یو معاهده کار وکړو او نتیجه ئې په دوه ویشتم نومبر کال 1921ز د برطانوي حکومت او د افغانستان یو معاهده وه چې پکښې د دواړو حکومتونو تر منځ د سفارتي تعلقاتو پرانستلو باندې اتفاق وشو. برطانیې د افغانان سره دا لوظ وکړو چې د ملک د ترقۍ او پرمختګ د پاره کهٔ چرې افغانستان خپل مال د برطانوي هند په لاره راغواړي، په دې به هېڅ قسم ټېکس او راهداري نهٔ وي. افغانستان لهٔ خپله اړخه دا لوظ وکړو چې دوي به په مشرقي افغانستان کښې د روس قونصل خانه نهٔ پرانیزي. افغاني سرکاري مجلې 'اتحاد مشرقي' د اتلسم جون کال 1922ز په ګڼه کښې د افغان حکومت خارجه پالیسي داسې واضحه کړه چې 'زمونږ خارجه پالیسي د ګاونډیانو سره ښهٔ تعلقات ساتل دي.'

ج. په وړومبو څو کالو کښې امان الله خان د 'پان اسلامزم' (د مسلمانانو یو والي او اتحاد) طرف ته ډېر رجحان لرلو. په دې وخت کښې د ډېرو اسلامي ملکونو سترګې افغانستان خوا ته وې. بل خوک هم دومره شهرت یافته نهٔ وو. عن چې اتاترک هم په خپل عسکري کارونو کښې بوخت ؤ او د اتاترک په حېث ئې شهرت نهٔ لرو. په کال 1920ز کښې امان الله خان د هدنوستان مسلمانانو ته د افغاني حکومت پالیسي واضحه کړه او دا ئې ورته ووئیل، "افغانستان ستاسو خپل کور دے، راشئ دلته به ځان د پېرنګي سره د مبارزې د پاره تیار کړئ؛ افغان حکومت به درته هر قسم کومک او مرسته درکوي." هم په دې وختونو کښې په وسطي اېشیا کښې د بالشویکو په ضد مسلمانان را پورته شوي وو. د دوي مشرۍ په اوله اوله کښې د 'بخارا' امیر سید عالم جان کوله. د امان الله خان لهٔ خوا امیر بخارا ته د هر قسم کومک او امداد ډاډګیرنه ورکړې شوه. د امان الله خان مور علیا حضرت امیر بخارا خپل زوے ګڼلو. د هغې لهٔ خوا امان الله خان ته ووئیلے شو چې د امیر بخارا امداد ته دې ملتې وتړي. په اکتوبر کال 1919ز د افغانستان لهٔ خوا امیر بخارا ته ملي امداد سره سره افغاني عسکر هم واستولے شو او دا خبره ډېره عجیبه وه چې کله روسي پوځیان د بخارې په طرف لاړل نو د بخارې خپل عسکر وتښتېدل او د امیر بخارا د محل په حفاظت افغاني پوځ تر اخره پورې ولاړ ؤ. د امیر امان الله خان د هغه وخت تقریرونه او بیانونه ټول د عالم اسلام په یووالي زور ورکوي. هغهٔ د انور پاشا سره هم خط و کتابت کولو. دا مشهور زمانه ترکے لښکر راوغوښتو. هغهٔ د انور پاشا نوم او خدمات د مسلمانانو په ضد بالشویکو د پاره استعمالول غوښتل خو انور پاشا چې کله دې وطن ته راغلو او د حالاتو جائزه ئې په خپله واخسته نو ډېر زر د مسلمانانو مشرۍ ته ئې تابیا وتړله او دنیا حېرانه شوه چې کله ئې انور پاشا د بالشویکو په ضد د وسطي اېشیاء د مسلمانانو د لاربسود په حېث ولیدلو. هغه د بالشویکو په ضد د وسله وال جدوجهد کوونکو مشر شو او په کال 1922ز کښې هم په دې حالت کښې شهید شو.

امان الله خان ډېره موده پورې د امیر بخارا او نورو جهادي مسلمانانو سره دا تعلق ونۀ ساتلے شو، ځکه چې اقتصادي طور سره افغانستان دومره تکړه نۀ ؤ چې د روسیانو پۀ ضد د بخارا د مسلمانانو امدادونه ئې تول عمر کړې وے. بله غټه وجه دا هم وه چې هغه پۀ دې پوهېدو چې روسیانو سره د مسلمانانو جنګ روان دے، دوي به هېڅ کله تر اوږد وخت پورې دا ونۀ مني چې افغانستان د دوي دښمنانو سره مرسته کوي او پۀ خپله خاوره د دوي د روس پۀ ضد استعمالولو د پاره اجازت ورکوي. امان الله خان خپلو مشیرانو پۀ دې هم پوهه کړو چې کۀ چرې روسیان وغواړي نو پۀ شمالي افغانستان او خاص کر پۀ مزار شریف کښې د امان الله خان پۀ ضد تحریکونه راپورته کولے شي. ښه به دا وي چې امان الله خان د وسطي ایشیاء د جهادي مسلمانانو دا مرسته پرېږدي ګنې د دې نتیجه به د افغانستان د پاره ښه نۀ وي. هغۀ پۀ دې مشوره عمل وکړو او د جمهوري تنظیمونو د مالي مرستې نه ئې لاس واخستو.

د محمود طرزي پۀ وېنا امان الله خان نورو ملکونو ته هم افغاني وفدونه د سفارتي تعلقاتو جوړولو د پاره واستول. پۀ دې لړ کښې افغاني وفدونه امریکا، فرانس، اټلي، ترکي، جرمني او ایران ته واستلے شول چې نتیجه ئې ډېره ښه ووتله. ډېرو ملکونو سره ډېر زر د افغانستان سفارتي تعلقات جوړ شو.

## د امان الله خان اصلاحات:

د افغانستان پۀ تاریخ کښې د امان الله خان هومره اصلاحات چا نۀ دي کړي. هغه چې خپل لس کلن دور حکومت کښې کوم بدلون پۀ خپل وطن کښې راوستے ؤ، هغه د بل چا پۀ خیال او خاطر کښې هم نۀ دے راغلے. ځکه چې ورانديې ووئیلے شو، د امان الله خان د ژوند غټ ارمان او مقصد هم دا ؤ چې خپل اولس او خپل خوږ وطن افغانستان د دنیا د نورو قومونو سره سیال کړي او د ترقۍ پۀ لار ئې دوي سره څنګ تر څنګ ودروي. دې د پاره هغۀ د هر هغه قدم پورته کولو ته تیار ؤ کوم چې د هغۀ پۀ خیال دې لوے مرام ته رسولو کښې مرسته کولې شوه. د فروري کال 1919ز پۀ میاشت کښې پۀ تخت د کښېناستو سره هغۀ دا خبره واضحه کړه چې " د الله تعالي پۀ لوے فضل او حکم زما حکومت به پۀ دې وطن کښې د اصلاحاتو نافذ کولو پوره پوره کوشش کوي. دا اصلاحات به د دې وطن د اوسېدونکو د ښېګړې د پاره وي. مونږ غواړو چې دا خوار و زار پاتې شوے افغان اولس د نړۍ د ترقي یافته قامونو سره سیال کړو. مونږ به خپله خواري او کړاوونه کوو او نور به ئې پۀ لوے خداے پرېږدو چې هغه راباندې خپل خصوصي رحم او کرم وکړي. زمونږ چې څومره وس وي، هغه به کوو او برکت اچولو د پاره به لوے خداے ته سوال او زاري کوو. زۀ د الله تعالي نه د مسلمانانو د یو والي او اتفاق د پاره هم سوال او زاري کوم او د ټول انسانیت د بخښنې د پاره ترې نه سوال کوم. د الله تعالي رهنمائي غواړو او دا دعا کوو چې زما دا ارمانونه دې الله تعالي پۀ ښۀ شان سره پوره کړي."

## تعلیمي اصلاحات:

د امان الله خان تعلیم ډېر زیات خوښ ؤ. دا د هغۀ بنیادي اصلاحات دي. هغۀ دا غوښتل چې تعلیم دې عام کړي، ځکه چې اخوا دې خوا به ئې وکتل نو خپل خان او خپل هېواد او اولس به ورته ډېر کمزورے ښکاره شو. پۀ تعلیمي مېدان کښې افغانستان ډېر وروستو پاتې ؤ. د نړۍ د نورو هېوادونو سره ئې هېڅ مقابله نۀ وه. امان الله خان پرې پوهېدو چې د افغانستان خپل خلق چې فرسوده او د زاړۀ ذهن مالکان دي، دوي خو پۀ دې لړ کښې پۀ خپل ځان کښې هېڅ بدلون راوستو ته تیار نۀ دي نو دا فېصله ئې وکړه چې د خارج نه تعلیمي ماهرین راوغواړي او د هغوي پۀ لاربښوونه باندې پۀ افغانستان کښې بدلون راولي. هغۀ د ترکیه او مصر نه شروع وکړه، ماهرینِ تعلیم او تجربه کار استاذان ئې راوستل او دوي ته ئې غټه ذمه واري ورپۀ غاړه کړه چې د افغاني ماهرینِ تعلیم لاربښودنه وکړي. د دوي سره امان الله خان اروپائي ماهرین تعلیم هم افغانستان ته راوبلل. د فرانس نه ئې الفرېډ فوشر نومې یو ماهر تعلیم راوغوښتو او ورته ئې خواست وکړو چې د فرانس پۀ طرز د افغانانو تربیه هم وکړي. د جرمني نه ئې هم ډېر زیات ماهرین تعلیم راوغوښتل او ورته ئې ذمه واري ورپۀ غاړه کړې.

دې ماهرینو د خپلو هېوادونو پۀ طرز دلته هم سکولونه او ښوونځي پرانستل. داسې اروپائي نظام تعلیم پۀ افغانستان کښې

متعارف کړے شو. دا خبره بیا واضحه کول غواړم چې امان الله خان دا خپل اصلاحات د پلار غونډې صرف د کابل د پاره نۀ کول، هغۀ غوښتل چې د دې تعلیم او نورو اصلاحاتو نه دې ټول افغانان او پۀ خصوصي توګه پۀ کلو کښې اوسېدونکي خلق استفاده وکړي. پۀ دې لړ کښې د هغوي د وطنونو غوندې سکولونه پۀ کابل کښې پرانستے شو چې استاذان هم پۀ کښې د هغه هېوادونو وو او د تعلیم ذریعه هم د هغوي پۀ ژبه وه. وړومبے سکول پۀ دې حساب کښې د فرانس د نظام تعلیم غوندې پرانستے شو او نامه ئې 'لیسه امانیه' وه. دا پۀ کال 1922ز کښې پرانستے شو. د امان الله خان د تخت پرېښودو نه پس د دۀ نوم بدل کړے شو او 'لیسه استقلال' شو. پینځۀ فرانسوي پروفېسران او دولس افغاني استاذان پۀ دې سکول کښې وو او لکه چې ووئیلے شو چې فرانسوي ژبه پۀ درس ورکولے شو. دوېم د 'اماني' پۀ نوم پۀ کال 1923 کښې پرانستے شو او د جرمن نظام تعلیم پۀ طرز ؤ. د دې زیات استاذان جرمنیان وو او د زدکړې د پاره ژبه هم جرمن وه. د امان الله خان د تګ نه پس د دې نوے نوم 'لیسه نجات' شو. درېم سکول د انګرېزانو پۀ طرز د تعلیم ؤ. دا سکول د 'غازي' پۀ نام پۀ کال 1928ز کښې قائم شو. د دې د زدکړې ژبه انګرېزي وه.

امان الله خان د تعلیم فائده هر چا ته رسول غوښتل. هغۀ پۀ ټول افغانستان کښې د سکولونو جال جوړ کړو. هغه پۀ دې پوهېدو چې تر څو پورې د علم دا رڼا هر خوا ته نۀ وي خوره شوې او هر چا ترې فائده نۀ وي اوچته کړې، افغانان د علم پۀ خوږو نۀ شي پوهېدے او هېڅ قسم بدلون ئې پۀ سماجي او مادي ژوند کښې نۀ شي راتلے. هغۀ تعلیم لازمي کړو، یعني د علم زدکړه ئې پۀ هر چا فرض کړه. تعلیم مفت ؤ، هر افغاني ماشوم چې د شپږو کالو نه واخلې تر یوولس کالو ؤ، پۀ هغۀ دا تعلیم لازمي ؤ. د دې غټ مقصد هم دا ؤ چې دا خپل هېواد او اولس د جهالت د تور تیارو نه راوباسي او د علم پۀ رڼا ئې ولړي. هم داسې به دوي د نړۍ د ترقي یافته قومونو سره سیالي کولې شي.

د امان الله خان دوه غټ مقصدونه وو. هغه پۀ دې پوهېدو چې د اصلاحاتو د نافذ کولو د پاره یوه روش فکره او تعلیم یافته ټولنه/ معاشره/ ټولے پکار دي. هغه صرف او صرف د تعلیم د حصول پۀ لاره ممکنه ده. هغۀ پۀ خپل وطن کښې بدلون راوستل غوښتل او دا بدلون هله ممکن ؤ چې د هېواد هر وګړے پۀ دې پوهه شي چې پۀ دې کښې د باچا څۀ خپل ذاتي غرض نشته؛ لکه دا د دوي د پرمختګ او ښېګړې د پاره کوي. یقیناً چې بې عمله خلق به بې سواده وي او پرې به نۀ پوهېږي. د امان لله دوېم غټ مقصد دا ؤ چې د هغۀ د حکومت چلولو د پاره مخلص، روش فکره او جدید تعلیم سره خلق پکار وو. د هغۀ پۀ وطن مئین زلمي پکار وو. پۀ هغۀ دا اعتراض هم دے چې هغۀ ولې د زور نه کار اخستے ؤ او خلق ئې پرې مجبورول چې دوي دې تعلیم حاصل کړي؟ کۀ د هغه وخت د افغاني ټولنې پۀ غور سره جائزه واخستې شي نو د غربت د لاسه خلقو خپل زامن خپل ملاتړ ګڼل او دوي دا غوښتل چې دوي سره دې خپل زامن د کور د پاره ګټورو کارونو کښې برخه واخلي چې د دوي پۀ اوږو دا بوج سپک شي. دوي دې اقتصادو ته خو کتل، ولې د ماشوم ژوند چې تباه کېدو، پۀ هغې ئې څۀ کار نۀ ؤ. باچا دا غوښتل چې دوي ماشومانو ته د جدید تعلیم کالي واغوندي، بیا یقیناً چې ځوانان شي نو هم د خپلو ټبردارو کورنیو به پۀ ښۀ شان مرسته او ملاتړ کولے شي. دې طبقې دا غوښتل چې ژوند دې هم داسې روان وي او پۀ دې کښې بدلون را وستل دوي ته د مرګ نه کم نۀ ښکارېدل.

امان الله خان چې دا ولیدل چې دوي خو پۀ امن دې خبرې ته تن نۀ ږدي نو هغۀ بیا څۀ سخت قدمونه پورته کړل او سرکاري ملازمینو ته ئې پۀ جار ووئیل چې کۀ تاسو خپل بچي سکولونو ته نۀ استوئ نو بیا تاسو هم پۀ کور کښېنئ او د نوکرو نه ځان برخاست وګڼئ. د امان الله خان پۀ وخت کښې د جینکو پۀ تعلیم خاص توجه ورکړې شوې وه. د جینکو د پاره ځان له هم پۀ کال 1921ز کښې د 'عصمت' پۀ نوم یو سکول پرانستے شو. د امان الله خان د تګ نه پس د دې نوم هم بدل شو او 'لیسه ملالی' ترې جوړه شوه. د دې سکول انتظام د امان الله د ښځې ملکه ثریا پۀ خپل لاس کښې ؤ. د هغې سره د هغې مور هم د هغې مرستیاله وه. د دوي مقاصد هم دا وو چې افغاني ټولنه کښې د جینکو د تعلیم افادیت وړېۀ ګوته کړي. دوي خپل مقصد کښې کامیابي څکه وموندله چې ډېر زر د جینکو شمېر د سوونو نه واوړېدو.

امان الله خان دا فېصله هم وکړه چې پۀ ګڼ شمېر دې افغانان طالب علمان د اعلیٰ تعلیم د پاره بهر واستوي. پۀ دې لړ کښې پۀ کال 1921ز کښې پینځۀ څلوېښت زلمي فرانس ته د تعلیم د پاره پۀ سرکاري خرچه واستولے شو. پۀ کال 1922ز کښې څلوېښت هلکان نور جرمني ته واستلے شو. حکومت باقاعده هر کال د اعلیٰ تعلیم د پاره هلکان انګلستان، سوېټزرلېنډ، ترکي او ایران ته استول.

امان الله خان باندې چې به چا اعتراض وکړو چې ولې دا ځوانان دومره لرې هېوادونو ته استوې، هغه به ورته په ځواب کښې د رسول الله صلي الله علېه وسلم د دې حديث شريف حواله ورکړه چې دا زمونږ خوږ پېغمبر رسول الله صلي الله علېه وسلم وئيلي دي چې که د علم په تلاش کښې ايمان دارو چين ته هم تګ درپېښ شي نو ځئ (تللې شئ).

په امان الله خان په وروسته دور کښې ملايانو دا اعتراض هم کولو چې دهٔ مسلماني پرېښودې وه او په هر وخت او موقع به ئې د مذهب او دين سپکاوے کولو. زهٔ دلته دا ښکاره کول غواړم چې دا پروپېګنډې د امان الله خان په ضد کېدې خو حقيقت دا دے چې کله به دا ځوانان د تعليم د پاره بهر استولے کېدل نو دوي نه به لوظ (خلف نامه) واخستې شوه چې دوي به دا کوي او دا به نهٔ کوي. دوي ته دا واضحه کړې شوه چې دوي به د مذهب پابندي کوي، د روژې په مياشت کښې به خپلې روژې نيسي او د هغې سره سره چې څومره زېرګې ورځې دي، د هغې به احترام کوي. د قران شريف تلاوت به په باقاعدګۍ سره کوي چې د دوي ايمان محکم وي. دوي ته به ښکاره ووئيلے شو چې د شريعت مطابق به د حرامو او حلالو خيال ساتي. هېڅ قسم کلبونو او شرابونو محفلونو کښې به شرکت نهٔ کوي. د اخلاقياتو نه غورځېدلي کارونه به نهٔ کوي. د هغه وطن چې کوم کښې دوي مېشته وي، د پېغلو او ښځو سره به هېڅ قسم ناجائز تعلقات نهٔ ساتي. په خوارک څښاک به ډېر زيات احتياط کوي او کوم څيزونه چې په قران شريف کښې منع شوي دي، هغو ته به نژدې هم نهٔ ورځي. کوشش به دا کوي چې د قران په احکاماتو پوره پوره عمل کوي. که چرې دا ثابته شوه چې دوي په دې عمل نهٔ دے کړے او د افغان حکومت لهٔ خوا د جاري شوو څيزونو خيال ئې نهٔ دے ساتلے نو د دوي وظيفه به بنده کړې شي او دوي به فوراً وطن ته بېرته را وبللے شي. د دې هر څهٔ کتو نه پس که بيا هم څوک وائي چې امان الله خان سوچه مسلمان نهٔ ؤ او د مذهب پابندي ئې نهٔ ده کړې او د مذهبي احکامات په ضد ئې کارونه کول نو دوي يقيناً چې د جهالت په تور تيارو کښې پراتهٔ دي او د دوي نه د جهل دا پردې لرې کېدل ګرانه ده.

د امان الله خان په حوصله افزايۍ د هغهٔ مېرمن ملکه ثريا په کال 1921ز کښې خاص د مېرمنو د پاره ورومبۍ مجله د 'ارشاد نسوان' په نوم جاري کړه. په دې کښې به د زنانو د دلچسپۍ د پاره سودمند مضامين چاپ کېدل. دې سره سره زنانو ته ئې د کور کور داري، چلونه هم ښودل. د ښځو سره لګېدلي معاشرتي مسائل هم پکښې د ليک لاندې راغلي دي. ډېر زر زنانو پکښې د اسلامي تاريخ نه اخستے شوي د ښځو په تورزتيۍ او مېړانې باندې مضمونونه هم چاپ کړل. د افغانستان د ازادۍ او ترقۍ د پاره د ښځو هلې ځلې هم پکښې په ښهٔ شان چاپ کېدې. د ترکيانو د ښځو حال احوال پکښې چاپ شوي دي. د دې سره سره افغانۍ مېرمنو ته هم ووئيلے شو چې دوي ته هم پکار ده چې په ښهٔ کارونو کښې د اروپائي او ترکيه ښځو تقليد وکړي. دوي دې د کور د چار ديوارۍ نه بهر راوځي او خپلو نارينو سره دې اوږه په اوږه لګه د يو ښهٔ ژوند ملګري مرستيالې شي، د هغوي بوجونه دې سپک کړي څکه چې صرف پخلي کولو او د کور دننه ماشومان لويولو باندې ملک چرته هم پرمختګ نهٔ شي کولے، نهٔ د هېواد او اولس مسئلے حل کېدے شي. امان الله خان خپله هم په دې کښې ذاتي دلچسپي اخسته. هغه څو څو ځله د ښځو خاص تولي ته تللے دے او هغوي سره ئې په دې او نورو ډېرو اهمو او زړه پورې موضوعاتو باندې ګټور بحثونه کړي دي. په دې ورځو کښې دوه اهمې پېښې داسې وشوې چې د ښځو قدر و قيمت ئې نور هم سهوا کړو. په کال 1928ز کښې 'انيس' مجله کښې د ښځو د پاره يو ځاے مختص کړے شو او په هغه ځاے کښې به د ښځو معاشرتي مسئلو باندې بحثونه هم کېدل او مضمونونه به هم چاپ کېدل. بغېر د څهٔ وېرې او شرم د وادهٔ کړو کورنيو مسئلې او د هغې حل باندې مضمونونه به چاپ کېدل. د هغې وخت سره دا خبره ډېره زياته لويه خبره وه څکه چې په افغاني تولنه کښې د ښځو په معاشرتي او نورو داسې لګېدلي معاملو باندې بحث کول ناممکنه خبره وه. د دې سره سره دوېم غټ کار دا وشو چې ملکه ثريا دا خواهش ښکاره کړو چې دوي ته دې هم الوتکه کښې چکر ورکړے شي. امان الله خان خبره فوراً ومنله او د شلو خواوشا ښځې په الوتکه کښې د کابل په اسمانو کښې وګرځېدې. په دې خبره ملايانو يو شور او غوغا جوړه کړه او ډېر نور درانهٔ درانهٔ مشران هم ورسره په دې کښې د امان الله خان په غندنه کښې شريک شول. دا خبره لويه ګناه وګڼلې شوه چې ښځې د سړو د سرونو د پاسه سورېږي. امان الله خان د دې پروپېګنډې هېڅ خيال نهٔ ساتلو او خندېدو به – هغهٔ وکتل چې دنيا ته وګورئ کوم ځاے ته ورسېده او مونږ په افغانستان کښې د دې نه تاوېږو چې زمونږه مېرمنې دې ولې زمونږ سره سيالې شي.

## افغان پرېس:

د افغانستان نومورې اخبار 'سراج الخبار' د نوي نوم 'امان افغان' سره د اکتوبر کال 1919ز د کابل نه چاپ کېدل شروع شو. پۀ فروري کال 1920ز کښې د ننګرهار (جلال اباد) نه د 'اتحاد مشرقي' پۀ نوم بله مجله شروع شوه. هم پۀ دې کال هرات نه دوه اخبارونه 'فرياد' او 'اتفاق اسلام' شروع شول. دا ټول اخبارونه پۀ فارسی ژبه کښې وو او ګاه نه ګاه به پکښې چرته د پښتو مضمون ليک ښکاره شو. هم پۀ دې کال د مزار شريف نه دوه اخبارونه د 'بېدار' او 'اتحاد اسلام' پۀ نوم شروع شول. 'اتحاد بغلان' پۀ کال 1921ز کښې د بغلان نه چاپ کېدل شروع شو او پۀ کال 1922ز کښې د کتغان نه 'اتحاد خان اباد' او د قندهار نه 'طلوع افغان'، د کوهستان نه 'ستاره افغان' او د کابل نه پۀکال 1923ز کښې 'حقيقت' چاپ کېدل شروع شو. څلور کاله پس 'انيس' هم د کابل نه شروع شو خو دا اخبار مکمل پۀ پښتو ژبه کښې وُ. هم داسې د امان الله خان پۀ وېنا مختلفو وزارتونو خپل خپل اخبارونه شروع کړل. محکمه تعليم 'ائينه عرفان'، د وزارت ماليات د طرف نه مجله 'ثروت'، د وزارت حربي لۀ خوا 'عسکريه' چاپ کېدل شروع شو.

لکه چې ووئيلے شو، د دې مجلو او اخبارونو پۀ چاپ کېدو کښې امان الله ذاتي دلچسپي اخسته. هغۀ پۀ خپل وطن کښې بدلون راوستل غوښتل او دا بدلون د تعليم نه بغېر ناممکن وُ. د دې سره سره هغۀ دا هم غوښتل چې افغانان دې د ازادۍ پۀ قدر و قيمت هم پوهه شي. هغۀ غوښتل چې د خپلې خاورې سره د مينې سره سره دې خلق د جديد اصلاحاتو او تعليم نه هم استفاده وکړي. پۀ دې رسالو او اخبارنو کښې به ډېر پۀ زړۀ پورې مضمونونه چاپ کېدل او خلقو به پۀ کښې خپله دلچسپي ښکاره کوله.

## صحت او مواصلات:

لکه د نورو ډېرو اهمو اقداماتو سره سره امان الله خان پۀ دې لړ کښې هم ډېر کار کړے دے. هغۀ د خپل اولس د صحت متلعق ډېر فکرمند وُ. هغۀ به ليدل چې څنګه نا پوهه او بې عمله خلقو د حکمت پۀ نوم د مودو مودو راهسې دهوکه خوړلې ده. د حکمت پۀ نوم ډېرو خلقو يو سود مند کاروبار شروع کړے دے او د افغان اولس د ژوندونو سره لوبې کوي. امان الله خان دوي قتل کول غوښتل. د حکومت لۀ خوا پۀ بازارانو کښې داسې قسم حکيمانو او د هغوي پۀ حکمت بندېز ولګېدو. پوهه او قابل حکيمانو ته باقاعده د حکومت لۀ خوا اجازه ورکړې شوه چا چې به څۀ قسم نقصان د حکمت پۀ نوم چا ته ورسولو، فوراً به د هغۀ اجازت نامه منسوخ کړې شوه. امان الله خان يو لوے ګام پۀ دې لړ کښې دا هم واخستو چې د حبيب الله خان مانۍ ئې د ټي بي (لوے رنځ) مريضانو د پاره وقف کړه. پۀ کال 1923ز جرمنيانو افغانستان کښې دوه هسپتالونه چالو کړل. پۀ دې کښې به دوايۍ هم ورکولې شوې او نور علاج به هم وېريا کېدو. دا يو د نارينو او بل د زنانو د پاره روغنتون وُ. پۀ عمومي توګه د ډاکټرانو کمے محسوسېدو او امان الله خان پۀ دې لړ کښې ډېر کراوونه وکړل چې ډاکټر د ضرورت مطابق پېدا کړي خو ډېره کاميابي به ئې نۀ وه موندلې.

د مواصلاتو پۀ لړ کښې امان الله خان ډېر انقلابي ګامونه پورته کړل. هغۀ پۀ ټول هېواد کښې د سړکونو جال خورول غوښتل، کابل او پېښور او کابل او قندهار او کابل او هرات تر منځه ئې سړک ډېر پۀ ښۀ شان جوړ کړو، د دې لوے ښارونو ئې خپلو کښې رابطې برابر کړې. پۀ کال 1925ز کښې روسيانو کابل کښې يو رېډيو سټېشن هم جوړ کړو. د روس لۀ خوا افغانستان ته پينځۀ الوتکې هم ډالۍ کړې شوې. روسي هوابازانو دا الوتکې کابل ته راوستې. پينځويشت (25) زلمي دُ هوابازۍ د تربيت د پاره روسيه ته واستول شول. پۀ کال 1928ز کښې ئې د وسطي اېشياء سره هوائي زابطې جوړې کړې. هم پۀ دې کال د کابل او قندهار تر منځه الوتکې والوځولې شوې. پۀ قندهار، جلال اباد او هرات کښې د بېن الاقوامي سټېنډرډ مطابق هوټلونه جوړ کړے شول، ځکه چې امان الله خان غوښتل چې کوم سېلانيان چې د خارج نه راځي نو بايد هغوي ته د هر قسم سهولتونه مهيا وي، ځکه چې دا خلق به د افغانستان پۀ اقتصاد کښې ډېر اهم کردار ادا کوي.

د دې سره سره د کابل د زوړ ښار د تنګو او ترشو کوڅو نه چې د صفايۍ څۀ خاص انتظام به نۀ وُ او د باران نه پس به ختې او اوبۀ تر مودو پورې ولاړې وې، د هغو د صفايۍ خاص انتظامات ئې وکړل. هغۀ دا هم فيصله وکړه چې د کابل پۀ خوا کښې به د 'دار الامان'

پهٔ نوم یو نوے ښار جوړ کړي چې پهٔ کښې د حفظان صحت د اصولو پوره پوره خیال ساتلے کېږي. د غرونو د لمن نه به پاتې اوبهٔ راځي او د ویالو او چینو پهٔ شکل کښې به پهٔ ټول ښار کښې ګرځي. ګلي کوڅې به هوا دارې وي، د نمر او د رڼا به پهٔ کښې خاص خیال ساتلے کېږي. هلته ئې د ځان د پاره او د خپلو ملازمینو د پاره دفترې جوړول هم شروع کړل. دې نوي ښار کښې د اوسېدو ارمان د امان الله خان پوره نهٔ شو. تر ډېرې مودې پورې پهٔ 'دار الامان' کښې شاهي محل او دا نور دفترونه موجود وو خو د افغانستان د اوسنیو خونړو پېښو د پس ته چې کله نا کله څوک پهٔ امان الله خان مئین هلته لاړ شي نو زړهٔ ئې د خفګان نه پړق وچوي. دا محلات او دفترونه د جګړو د لاسه اوس خالي کنډرې پاتې دي. امان الله خان پرې څومره خواري کړې وه او د هغې اوس څهٔ حالات دي؟ [یاده دې وي چې د 'دار الامان' د بیا ودانۍ پروژه پهٔ تونديۍ سره روانه ده او هیله چې د خپلواکۍ د سلمې کلیزې پهٔ ویاړ سړکال دغه وداني سر ته ورسي. د جنګ ځپلي او زېښلي افغانستان لهٔ خوا دا وداني سر ته رسول به ثابت کړي چې افغانستان کښې تاریخي او سیاسي شعور پرمختګ کړے دے او دا چې اوس به ډېره ګرانه شي چې کوم غېر جمهوري ځواک بیا افغانستان ونیسي. 'پښتون']

## انتظامي او قانوني اصلاحات:

د نورو اهمو څېزونو سره سره امان الله خان د انتظامي امورو او قانوني اصلاحاتو طرف ته هم خاص پاملرنه کړې ده. پهٔ هغه وخت کښې پهٔ افغانستان کښې اقربا پروري او رشوت ډېر زیات وو، غلاګانې هم د سرکاري نوکرانو پهٔ جړو کښې ننوتې وې. د کار خلق پهٔ شمېر وو. امان الله پهٔ تخت د کښېناسو سره پهٔ دې پوهه شو چې رشوت او غلا د ملک بېخ او بنیاد وباسي؛ هم پهٔ دې لړ کښې ئې څینې انقلابي اقدامات وکړل. دغه ټول امیدونه د ځوانانو سره تړلي وو. پهٔ ګڼ شمېر کښې ئې دوي د تربیت د پاره خارجي هېوادونو ته واستول. ډېر زیات تعداد پهٔ کښې روس ته واستولے شو. د 'مکتبه حبیبیه' د فارغ التحصیل طالب علمانو سره د امان الله ډېره زیاته دلچسپي وه او هغهٔ غوښتل چې دوي ته صحیح تربیتي ټرېننګ ورکړے شي څکه چې دوي د افغانستان مستقبل دے. هغهٔ دوي ته دا ښکاره کړه چې د نوي وخت د تقاضو سره ځان هم اهنګ کړئ او دا خپل وطن د ترقۍ پهٔ لار روان کړئ. امان الله غوښتل چې سرکاري نوکران د رشوتونو او بډو نه ځان وساتي. پهٔ دې لړ کښې حکومت دا اعلان وکړو چې دوي دې خپلې اثاثې او جائیدادونه څرګند کړي. د قانون احترام ئې پهٔ هر چا لازم وګرځولو. دا اعلان ئې وکړو چې د خلقو د مال او ځان حفاظت هم پهٔ حکومت فرض دے. وئیل به ئې چې پهٔ کومه علاقه کښې چې شوکه یا داړه وشي، د هغې علاقې خواوشا کلو خلق به د دې ذمه وار وي او دا تاوان به هم دوي ورکوي. د میونسپل کمېټیو اجراء ئې وکړه او پهٔ ټولو لویو ښارېو کښې ئې میونسپل کمېټۍ جوړې کړې. افغانستان ئې د انتظامي امورو د پاره پهٔ پینځو برخو کښې ووېشلو – یو پهٔ کښې د کابل ښار ؤ او نور قندهار، افغاني ترکستان، هرات او بدخشان شامل وو. دا برخې بیا نورې پهٔ ضلعو ووېشلې شوې. د قانون پهٔ محکمه کښې ئې هم ډېرې تبدیلۍ راوستې. د خلقو نه ئې قاضیان او ججان واخستل. دوي ته به سرکاري تنخواه ورکېدې شوه. باچا د اپیل د پاره اخري حد ؤ او اخري فېصله به باچا کوله. پهٔ ورومبو څو کالو کښې دا ټول څېزونه ډېر پهٔ منظمه توګه روان کړے شول. د جرائمو بېخ بنیاد ووېستے شو. بیا هم جرایم پهٔ درې برخو کښې ووېشل شو – غټ جرم چې پهٔ کښې زنا، شراب څښکل، غلا، شوکې او ډاکې شاملې وې. د هغې د پاره د شریعت مطابق سزا ورکېدې شوه او دا جرمونه ټول د حدودو لاندې وګڼل شو. دوېمه درجه کښې د انسان وژل، چا ته بدني نقصان رسول وغېره د قصاص د لاندې به فېصله کېدل او د درېمې درجې جرمونه به د تعزیر د لاندې فېصله کېدل. قاضیانو ته پهٔ بار بار دا وئیلے شوي وو چې بغېر د څهٔ وېرې او ترهې فېصله کوي، تر ډېره حده پورې جرمونه خلاص شوي وو.

پهٔ هېواد کښې ئې پهٔ بیګار باندې پابندي ولګوله. جوارې، د ځناورو جنګول، پهٔ ځناورو د هغوي د وس نه زیات بوج اچول وغېره هم بند کړے شو. هر قسم نشې باندې پابندي ولګېده. پهٔ شرابو څښکلو خو پابندۍ د اول ورځې نه وه، بیا ورسره ورسره د چرسو پهٔ څښکلو او د افیمو پهٔ خوړلو هم بندېز ولګېدو. د لختیو پهٔ ګداګانو هم بندېز ولګېدو. کوم خارجیان چې پهٔ افغانستان کښې مېشته وو، هغوي ته دا ښکاره ووئیل شو چې تاسو به د دې وطن قانون احترام کوئ. امان الله خان پهٔ څهٔ طریقه اسلامي شریعت او پښتنولي یو ځاے کول.

په کال 1922ز کښې په ورومبي ځل سرکاري بجټ څرګند شو چې په کښې د سرکاري اخراجاتو او د بادشاه د ذاتي خرچې تقسیم شوے ؤ.

په کال 1923ز کښې افغانستان ته ورومبے ائین ورکړے شو. د دې نوم نظام نامه ئې "اساسِ دولت عالیه افغانستان" ؤ. دا په درې اویا (73) برخو وېشلے شوے ؤ. په دې کښې د یو پارلیماني وزارتي طرز حکومت منظوري ورکړې شوې وه. په ورومبي ځل په ښکاره طور سره ووئیلے شو چې د افغانستان سرکاري مذهب به اسلام وي. هندوانو او یهودو ته او نورو مذهبي اقلیتونو ته پوره پوره مذهبي ازادي ورکړې شوې وه. دا هم فېصله وشوه چې امیر صاحب ته به 'خادم دین' وئیلے شي او د هغه نوم به په باقاعده طور سره فېصلو کښې اخستے کېږي.

د ائین لاندې کونسل په اووه برخو کښې تقسیم ؤ - دربار شاهي چې په کښې ملکانان او ګڼ شمېر درانیان وو او خوانین ملکي چې د خلقو نمائندګي به ئې کوله. دربار شاهي غړي به په خانداني وراثت باندې راتلل او د باچا په خوښه به ئې وخت تېرولو. خوانین ملکي به باچا هم ټاکل او څه به ئې خلقو له ارخه ټاکل کېدل. په ائین کښې د قامي شخړو د حل کېدو د پاره د لويې جرګې هم خپل ځاے او اهمیت موجود ؤ.

## عسکري او مالي اصلاحات:

د امان الله خان په مغزو کښې د خپلو عسکرو د تربیت او پرمختګ د پاره لویه خاکه جوړه وه. د هغه د پاره د جرمن او ترکیانو پوځ یو مثالي پوځ ؤ. هغه غوښتل چې د افغانستان پوځ هم د هغوي په شان منظم او تربیه وي. په دې سلسله کښې هغه د خارج نه الوتکې او نوې جدید وسله راوغوښتله. د مېلان (اټلي) نه ئې پوځي ترکونه هم راوغوښتل. اطالویانو ته ووئیل شو چې راشئ او افغاني پوځ تربیه کړئ. دوي نه علاوه فرانسوي، جرمني او روس ته ئې د ہر خوانان د عسکري تربیت د پاره ولېږل خو د پوځ ټوله اصلي مشري د ترکیانو په لاس کښې وه.

د افغانستان اقتصادي حالت ښه کېدو د پاره هغه د فابریکو ضروروت محسوسولو. هغه دا د ژوند لوے مقصد وګرځولو چې خارجي هېوادونو ته خواست وکړي چې راشئ دلته په لږ اُجرت باندې کار کېدے شي، کارخانې جوړول ستاسو په ګټه هم دي او د افغان اولس د پاره هم سودمند دي. دوي ته به په ارزانه ګټه مزدور په لاس ورشي او افغان اولس ته به په کلي کور کښې ملازمت په لاس ورشي. په ځینې څیزونو ئې ټېکس هم ولګولو خو دا څیزونه د عوامو د استعمال د پاره دومره زیات نه شو پکار راتلے. دا د دولت مندو خلقو د پاره د 'عیاشۍ' سامانونه وو چې په کښې تماکو، سیګرټ، قیمتي کاڼي، تصویرونه او چیني شامل وو. په بوټانو، د خاورو تېلو او چایو باندې ئې هم څه معمولي غونډې ټېکس لګولے ؤ. مطلب ئې دا ؤ چې دا خلق د دې نظام سره متعارف شي. د بده مرغه چې کله د خارج دورې نه واپس راغلو، په ځاے د دې چې خپل وخت او توانائي ئې په دې اصلاحاتو باندې لګولي وے، دومره لانجو ته ور مخامخ شو چې ټول وخت ئې هغې واخستو. د پېرنګي په لمسه چې کوم شورش او شور و غوغا په وطن کښې شروع وه نو هغه ټول قوت د هغې معاملاتو ورکولو واخستو چې کامیاب هم نه شو پکښې، او داسې دا اصلاحات په ځاے پاتې شول.

## د خوست بغاوت (کال 1924):

امان الله خان خپل اصلاحات په تېزۍ سره نافذول غوښتل. د هغې د پاره ئې هم لارې هوارولې او هم ئې په لاره کښې پراته خندونه لرې کول. د دې نه ناخبره ؤ چې د چا د پاره چې هغه دا هر څه کوي، هغه ناپوهه خلق د دښمن په لمسه په خپلو ښو او بدو کښې فرق نه شي کولے. هاغه اصلاحات کوم چې هغه د هېواد او د اولس د ښېګړې د پاره کول، هم هغه اصلاحات د دې خلقو خوښ نه وو. د پېرنګي په لمسه او د ملایانو په ملاتړ د خوست منګلو د امان الله خان د اصلاحاتو په ضد بغاوت وکړو. دوي د جینکو د تعلیم په حق کښې نه وو - د پېرنګي په پټه ملګرتیا او د ملایانو په لمسه هغه اصلاحات چې زنانو ته ئې سماجي حقوق او د تعلیم حق ورکولو، دوي په ضد ودرېدل. دوي دې ته تیار نه وو چې د دوي زنانه د دوي سره سیالي شي. دا بغاوت نهه میاشتې جاري ؤ.

نتیجه ئې څۀ ډېره ښه نۀ وه. دوو زرو نه زیات کسان پۀ کښې ووژلے شو او د درې نیم زره نه زیات ټپیان شو. بغاوت خو رفع دفع کړے شو خو امان الله خان پرې خوشحاله نۀ ؤ. هغۀ دا توقع نۀ لرله چې دومره زیاته مرګ ژوبله به پکښې کېږي. دې دوران د افغاني عسکرو کمزوري هم را مخامخ شوه او امان الله خان قبائیلو ته د کومک خواست وکړو. مومند، شینواري، اپریدي، وزیر او څیني هزاره د باچا د امداد د پاره راغلل او د افغاني عسکرو سره څنګه پۀ څنګ د بغاوت پۀ ختمولو کښې ودرېدل خو دې دومره غټ مرګ ژوبله باندې د امیر امان الله زړۀ ډېر بد ؤ.

د بغاوت پۀ رفع کولو کښې ډېرې زیاتي پیسې ولګېدې او دې د پاره څنې اصلاحات شا ته د څۀ مودې د پاره وغزولے شو. پۀ دې دوران امان الله خان ته د افغاني عسکرو کمزوري هم ښکاره شوه. هغۀ دا پخه اراده وکړه چې پۀ کښې به بدلون راولي. زاړۀ پوځیان ئې د اهمو عهدو نۀ لرې کړل او ځوانان ئې راوړاندې کړل. هغۀ نوي کهول ته دا ذمه واري ور پۀ غاړه کړه. هم دې بغاوت کښې یو ځل بیا باچا پۀ قبائیلو دارومدار ښکاره کړو. روسیانو د امان الله خان امداد وکړو او پېرنګیانو پۀ پټه د امان الله خان پۀ ضد راپورته شوي خلقو سره کومک وکړو.

## د امان الله خان د بهرنو ملکونو لویه دوره (دسمبر کال 1927- جولائي کال 1928):

پۀ افغانستان کښې د امن قائمولو نه پس امان الله خان اراده وکړه چې هغه پۀ خپله د خارجي هېوادونو یوه دوره وکړي. هغۀ د دې ضرورت د ډېري مودې راهسې محسوسولو او غوښتل ئې چې پۀ خپله ذاتي مشاهده وکړي چې دې قومونو څنګه ترقي وکړله او د افغانستان غوندې هېوادونه ولې د دې مزل نه دومره وروستو پاتې دي. هغۀ دا هم غوښتل چې د دې تجرې پۀ رڼا کښې هغه بیا د خپل هېواد اولس د پرمختګ د پاره لارې وټاکي. هغۀ سره پۀ دې دورې کښې ملکه ثریا هم ملګرې وه. د دې نه علاوه د بهرنیو چارو وزیر، وزیر مالیات (خزانه)، د کابل والي، د افغان پارلېمنټ صدر او پینځۀ نور تجربه کار لوي سرکاري افسران شامل وو. د امان الله خان د وینا مطابق د خارج ملکونو دا دوره هغۀ د سېل د پاره یا د عیاشۍ د پاره نۀ کوي بلکې هغه دا دوره د زدکړې او نوې څېړنې د پاره کوي. د دې پۀ نتیجه کښې به هغه د خپل ګران وطن د پاره هغه ټول ښۀ څیزونه زده کوي د کومې پۀ نتیجه کښې چې دې هېوادنو ترقي کړې ده. هغۀ دا هم غوښتل چې اروپائي قامونو ته او نورې نړۍ ته دا هم وښائي چې افغانستان هم یو تهذیب یافته هېواد دے او د نړۍ د نورو قامونو سره څنګ پۀ څنګ اوسېدل غواړي. افغانستان غواړي چې د دوي سره دې سیال شي. دا هر څۀ هغۀ پۀ کتابونو کښې خو لوستي وو، اوس ورته الله تعالي موقع پۀ لاس ورکړه. هغۀ غوښتل چې ذاتي مشاهده وکړي او د دې قامونو د ترقۍ لار باندې دوي هم روان شي.

هغۀ دا دوره د هندوستان نه شروع کړه. هغۀ پۀ دې وطن کښې د کال 1920ز نه لوے نوم لرلو. د هجرت د ورځو راهسې خلقو ورته ډېر عزت او احترام لرلو. هغۀ دلته د اسلامي نړۍ د یو والي خبره وکړه. د هندوستان نه پس هغه مصر ته لاړو. د 'جامعه الازهر' عالمانو سره ئې هم ملاقاتونه وکړل. د مصر باچا شاه فواد هغه د سامراج پۀ ضد یو کلک سنګر وګڼلو. د مصر نه پس هغه اټلي ته لاړو. د اټلي د هغې وخت باچا وېکټر ایمانویل هغۀ ته ډېر تود هرکلے ووئیلو او د اټلي لوے اعزاز 'کالر اف اېننزیټا' (Collar of Annunziata) ئې ورکړو. هلته نه امان الله خان روم ته لاړو. د عیسایانو مذهبي مشر پاپاے روم سره ئې ملاقات وکړو. پوپ پۀ دې موقع امان الله سره د خیالاتو تبادله وکړه. هغۀ د امان الله خان پۀ روښ فکرۍ او د دۀ پۀ پوهه حق حېران شو او د امان الله خان نه متاثره شو. د عیسایانو لوے اعزاز "آرډر اف دي ګولډن سپر" (Order of the Golden Spur) ئې ورته ورکړو. پۀ فرانس او جرمني کښې ئې هم تود هرکلے وشو. پۀ برلن کښې خو د امان الله خان د راتلو پۀ خوشحالۍ کښې ماشومانو ته چھټي ورکړې شوه چې دا د جرمن پۀ تاریخ کښې پۀ ډېرو کمو موقعو شوي دي. پۀ پېرس او برلن دواړو ښاریو کښې ورسره د هغه ملکونو باچایانو ملاقاتونه وکړل. د برلن یونیورسټۍ لۀ خوا ورته اعزازي دکتوري هم ورکړې شوه. د دې نه پس هغه انګلستان ته لاړو. هلته ئې ډېر عزت او مدار وشو. برطانوي باچا جارج پینځم ورته هم د هغه ملک یو لوے اعزاز 'کالر اف دي رائل وېکټورین آرډر' (Collar of the Royal Victorian Order) ورکړو. اکسفورډ پوهنتن ورته هم اعزازي دکتوري پۀ 'سول لاء' کښې ورکړه. دا خبره د یاد لرلو ده چې هغه د جمعې پۀ ورځ پۀ 23 مارچ کال 1928 اکسفورډ ته راغلے ؤ. د اکسفورډ پۀ براډ سټریټ کښې د امان الله خان او ملکه ثریا هغه

گرځي، لږ ورته غور شئ![1] هر وخت به مې سترګو ته د ما چې کله په اکسفورډ کښې پي ایچ ډي کوله نو د کور نه چې به لائبریرۍ ته تلم نو هم په دې لاره به تلم. هر وخت به مې سترګو ته د امان الله خان او ملکې دا تصویرونه وړاندې وړاندې کېدل او زړۀ به مې د ډېر خفګان نه په موتي کښې ونیولو چې دا هغه ځائے دے چې د دې په سبب امان الله خان مجبور کړے شو چې تخت پرېږدي او د خپل وطن نه هجرت وکړي[11] دې لاړې په هغه واقعه کښې ډېره اهم برخه ادا کړې ده.

عکسونه اخستے شوي وو کوم چې بیا د 'لارنس آف عربیه' په ذریعه د پښتنو په سیمه کښې خوارۀ کړے شو. د دې پروپېګنډې سره چې "اے پښتنو! دا وګورئ! ستاسو ملکه او باچا د پېرنګیانو په جامه کښې ولاړ دي. ستاسو هغه غېرت او پښتو څۀ شوه؟ د ملکې لباس وګورئ! دا د پښتنو جامه ده؟ دا خو نیمه لغړه ده. په خارجه کښې ستاسو ملکه داسې بې باکه او بې حیا جامو کښې

د اکسفورډ پوهنتون وائس چانسلر په خپله استقبالیه خطبه کښې دوي ته د مشرق لۀ خوا راوتے نمر او سپوږمۍ وئیل کوم چې د لرې وطن نه راغلي دي او د خپل علم او پوهې پلوشې خوروي. د اکسفورډ نه پس دوي مانسچټر، لیور پول او شیفیلډ ته لاړل او هلته ئې فابریکې وکتلې او خان ئې په ډېرو څیزونو پوهه کړو. د انګلستان نه پس امان الله خان روس ته لاړو. په ماسکو کښې د هغۀ استقبال د حکومت ټولو لویو غړو چې په کښې لېنن، چیچرین، واروشلوف، لوما چارسکي او نورو نومورو وکړو. د ماسکو نه پس 'لېنن ګراډ' ته لاړو، بیا یوکرائن او کریمیا ته هم لاړو. د روس نه پس ایران ته او بیا په اخره کښې ترکي ته لاړو. په نورلسمه مې کال 1928 کښې هغه په استنبول کښې وُ. په ترکي کښې هغۀ د مصطفی کمال اتاترک سره تفصیلي ملاقات وکړو. اتاترک ورته په پراخ تندي تود هرکلے ووئیلو. هغۀ د افغان د تورزنۍ او مېرانې ډېرې قصې اورېدلې وې، دا امان الله خان په کتو ډېر خوشحاله شو او د افغانانو ستائینه ئې وکړه. وئیلے کېږي چې په دې موقع امان الله خان هم ډېر زیات جذباتي شوے وُ. هغۀ اتاترک ته د لارښودنې او نصیحت خواست وکړو. هغۀ ترې نه تپوس دا هم وکړو چې ترکیانو څنګه دومره زر ترقي وکړه؟ اتا ترک ورته په دې موقع د نورو نصیحتونو سره سره دا مشوره هم ورکړه چې په افغانانو او ترکانو کښې ډېر فرق دے. ترکان د مودو راهسې د اروپا سره په رابطه کښې دي او د اروپائي قومونو عروج او زوال ئې ډېر د نزدې نه کتلے دے؛ ولې افغانستان د غرونو په لمن کښې پروت یو داسې هېواد دے چې د اروپائي قومونو سره ئې نېغه واسطه نۀ ده راغلې. دوي ته پکار ده چې اول تعلیم حاصل کړي، د تعلیم نه پس به دوي کښې بیا ورو ورو بدلون راځي. هم په دې موقع ئې امان الله خان ته دا هم ووئیل چې ډېر په احتیاط سره په ورو ورو قدم اخله ځکه چې افغانان روایتي خلق دي او هسې نۀ چرته ئې تېز تېز بوځې او هغوي درته چرته په منځ لاره کښې ار نۀ شي. بل نصیحت ئې ورته دا هم وکړو چې د ځینې اصلاحاتو د نافذ کولو د پاره تا ته د وفادار پوځ هم ضرورت دے. هم د پوځ په زور به تۀ دا اصلاحات نافذوې. هغۀ د امان الله خان سره دا لوظ وکړو چې ترکیه به ستاسو هر وخت هر قسم امداد کولو ته تیار وي. امان الله خان اتاترک سره ډېر ښۀ وخت تېر کړو او ډېر په خوشحالۍ ترې نه راپاڅېدو.

د امان الله خان دا دوره د هغۀ په خیال ډېره کامیابه ثابته شوه ځکه چې چرته چرته هغه لاړو، هغو هېوادو نو ورسره د افغانستان د پاره د کومک او امداد لوظونه کړي دي. ډېرو ملکونو ورته عسکري امداد ورکړو او ډېرو ورته د ماهرینو په شکل کښې د امداد ورکولو رضا مندي ښکاره کړه. دې دوران کښې ډېرې معاهدې هم دستخط کړې شوې او الوتکې او ټرېکټرې او یو رولس رائس موټر د باچا د ذاتي استعمال د پاره ډالۍ کړے شو. جرمني، اټلي، فرانس او روس ورته د مواصلاتو نظام ښۀ کولو د پاره د انجینئیرانو او ماهرینو په استولو هم خپله رضامندي ظاهره کړه.

## د امان الله خان د اصلاحاتو دوېمه دوره:

امان الله خان په جولائي کال 1928 کښې بېرته وطن ته واپس راغلو. هغۀ کښې ډېره غټه تبدیلي راغلې وه. هغه د مغربي هېوادونو د ترقۍ د مزل نه ډېر زیات متاثره شوے وُ او غوښتل ئې چې لکه د دې قامونو هغه هم خپل هېواد د ترقۍ په لار ګامزن کړي. هغۀ اوس دا اصلاحات په زور او خوښې دواړو باندې نافذول غوښتل. هغۀ به هر وخت دا ګنل چې ما سره وخت ډېر کم دے او مزل ډېر اوږد دے، چې څۀ کول دي هغه فوراً کول دي؛ ځکه چې وخت د هېڅ چا انتظار نۀ کوي. هغۀ د هغه قوتونو سخته غندنه وکړه کوم

چې د اصلاحاتو په لار کښې خنډونه اچوي او نه غواړي چې په دې وطن کښې دې څهٔ تبديلي راشي. هغهٔ په کابل کښې لويه جرګه راوغوښته او په دې موقع ئې خپل هېواد او اولس ته خواستونه وکړل چې د اصلاحاتو په نفاذ کښې د دهٔ سره مرسته وکړي. په دې موقع هغهٔ ووئيل،

"اے زما خوږه قامه! زما د پاره ډېره ګرانه ده چې زهٔ د هغه احساساتو ترجماني وکړم کوم چې زما په زړهٔ کښې د دې خاورې د پاره دي او ستاسو د پاره دي. ما د اروپا لويه برخه وکتله او تاسو به يقيناً په دې ډېر خوشحاله شئ چې د دې نه خبر شئ چې چرته هم زهٔ تللے يم نوما ته خلقو تود هرکلے وئيلے دے. دا زما د ذات څهٔ کمال نهٔ ؤ چې دې قامونو ما ته دومره لوے عزت راکړو او قدر مې ئې وکړو؛ دا پوره پوره د افغان اولس عزت ؤ چې دې خلقو راکړے دے. زما دې هېوادونو ته د تللو غټ مقصد هم دا ؤ چې زهٔ په خپلو سترګو د دوي د ترقۍ دا رفتار وګورم او د دې په راز باندې خان پوهه کړم او بيا د دې په رڼا کښې د خپلې سوکالۍ او ترقۍ لار وټاکم. زما په زړهٔ کښې د خپل وطن د ترقۍ او سوکالۍ ډېر زيات ارمان دے. د ترقۍ په دې لاره د کاميابۍ راز صرف او صرف خپل زامن او لوڼه د موجوده تعليم په کالي اراسته کول دي. زهٔ په دې مجبور يم چې دا ووايم چې زمونږ د ترقۍ لار به خپله دوام وکړي کله چې مونږ دا فرسوده او زوړ خوړلے شوے نظام وغورځوو، ځکه چې مونږ ته د وخت سره تلل پکار دي او هم په دې کښې زمونږ کاميابي ده. دا ياد لرئ چې د دې وطن په مونږ باندې قرض دے چې د دې وطن په تعليم او ترقۍ کښې مونږ پوره پوره برخه واخلو. په حقيقت کښې زمونږ د وطن د سوکالۍ او بربادۍ دوارو دارومدار زمونږ په دې نسل باندې انحصار کوي. دا په هر چا قرض دے چې د خپلو بچو ښهٔ شان تعليم او تربيت وکړي او د نوي تهذيب سره سره دې د جديد تعليم په کالي اراسته کړي.

د دې د پاره زهٔ تاسو ته سوال او منت او زاري کوم او دا خواست مې هم دے چې نن راسره کلک لوظ وکړئ چې تاسو به لهٔ خپلې خوا د تعليم په لړ کښې زما پوره پوره ملاتړ کوئ چې مونږ په ټول افغانستان کښې جديد طرز تعليم رائج کړو. داسې به مونږ په دې طريقه د نړۍ نورو قامونو ته دا پېغام په ښه طريقه ورسوو چې مونږ اوس د جاهليت په تور تيارو کښې هغه پراتهٔ خلق نهٔ يو او دا مو پخه اراده کړې ده چې بغېر د نورو د امداد نه به اوس په خپلو پښو باندې ودرېږو."

(Vartan Gregorian, The Emergence of Modern Afghanistan, California, 1969, pp.258-259)

د زړو نه زيات مشران په دې لويه جرګه کښې ناست وو. پينځهٔ ورځې د دې لويې جرګې کاروائي روانه وه. امان الله خان دا غړي د خپلې دورې نه خبر کړل او په بار بار ئې ورته دا ووئيل چې د ترکو او د مصر د خلقو د ترقۍ راز په جديد تعليم کښې دے. هغهٔ ورته دا هم ښکاره کړه چې کهٔ چرې تاسو په دې وطن کښې بدلون را وستل غواړئ، د هغې د پاره به ډېر کار پکار وي. هغهٔ ورته دا هم ووئيل چې د راتلونکو نسلونو د ښېګړې د پاره هغه د ځلورو ټولو نه اميدونه لري چې دوي به په وطن کښې اصلاحات نافذ کولو کښې امداد کوي. دوي کښې طالب علمان، د پوځ زلميان، حکومتي غړي او عام اولس - کهٔ چرې دا خلق په راستۍ سره کار وکړي نو هغه وخت لرې نهٔ دے چې افغانستان به د ترقۍ په لار ګامزن وي او د نورو ترقي يافته هېوادونو سره به اوږه په اوږه ودرېږي.
نوي اصلاحاتو کښې هغهٔ په ډېرو خلقو ګزارونه وکړل. روايتي مشران، خوانين او ملکانان پرې خفه وو؛ ځکه چې د دوي مشروتيې ئې خلاصه کړه. هغهٔ د پارلېماني طرز حکومت اعلان وکړو چې په کښې به وزيراعظم او د هغهٔ مشيران انتظامي مشري کوي. هغهٔ دا هم اعلان وکړو چې د خوانين، ملکي او دربار شاهي ضرورت نشته. په پوځي نظام کښې ئې هم بدلون راوستل غوښتل. د لازمي عسکري تربيت دوران ئې د دوو کالو په ځاے درې کاله کړو، عمر ئې د اتلسو کالو نه اوولسو کالو ته راکوز کړو. د عسکري افسرانو نه ئې يوه مياشت تنخواه واخسته ځکه چې خرچه د حکومت ډېره زياته شوې وه او اوس هغه کمے پوره کېدل ضروري وو.
امان الله خان د تعليمي اصلاحاتو متعلق هم په تفصيل سره خبرې وکړې. هغهٔ خپله اراده يو ځل بيا ښکاره کړه چې هر افغان وګړے کهٔ هلک دے کهٔ جينۍ، ده، هغه تعليم يافته کېدل غواړم. حکومت کهٔ چرې د زور ضرورت وګڼي، هم به ئې استعمالوي خو تعليم به ضرور وي. د رشوت ختمولو اعلان هم وشو. سرکاري ملازمينو ته ووئيلے شو چې ځان په هر قيمت د رشوتو او بډو نه ساتئ.
لويې جرګې اقدامات ومنل او د ځينو ئې سخته غندنه وکړه. د باچا ستائينه ئې هم وکړه. پوځي اصلاحات ئې ډېر په نهٔ زړهٔ ومنل.

معاشرتي اصلاحات ئې بالکل منظور نهٔ کړل او د ځینو خو ئې ډېره سخته غندنه وکړه. د جرګې غړي د جینکو د تعلیم پهٔ حق کښې نهٔ وو. دوي د باچا د جینکو د بهر استولو هم مخالفت وکړو . د باچا د پردې ختمولو خبرو باندې هم دوي خفګان ښکاره کړو. د ودونو د پاره د عمر د ټاکلو خبره ئې هم ونهٔ منله. د مذهب پهٔ نوم چې امان الله خان کوم اصلاحات کول غوښتل، هغه ئې هم ورسره ونهٔ منل. د جرګې د مشرانو خبرې بهر راووتې، ملايانو هم قسم قسم تورونه پهٔ امان الله خان ولګول او دوي دا د پېرنګي پهٔ لمسه کول او د دې هر ځۀ مشر ملا شور بازار ؤ. د امان الله خان نوي اصلاحاتو سره د دوي د مذهب پهٔ نوم دکانداري ختمېده. د امان الله خان پهٔ ضد پروپېګنډه شروع شوه او د دهٔ د پوپ سره ملاقات، ایران ته تلل او د ترکیانو سره رابطې او ملګرتیار زیاتېدل پهٔ دې هر ځۀ ملیانو اعتراضونه شروع کړل. د امیر پهٔ هر قدم د هغوي اعتراضات زیاتېدل. د ملکه ثریا پهٔ پردو هېوادونو کښې د سرو سره پهٔ یوه ځاے کښېناستل، ډوډۍ خوړل او بې پردې ګرځېدل پهٔ هر ځۀ اعتراضونه شروع وو. کله چې امان الله د دې قسم پروپېګنډو د پاره د مخ نیوي کولو اراده وکړه نو دا خبره مشهوره شوه چې امان الله خان پهٔ شور بازار ملا ګزار کوونکے دے. عام اولس کښې دې پراپېګنډې ځاے ونیولو او هغوي هم پهٔ باچا اعتراضونه شروع کړل.

پهٔ دوېم اکتوبر کال 1928ز د کابل خلق د امان الله خان خلاف راووتل خو دا اړے ګړے اورد نهٔ شو. د امان الله خان پهٔ ضد پهٔ پښتنو سیمو کښې یو غوبل شروع شو. شینواري، اپریدي، مومند، ځاځي، خوګیاني او ځدراڼ د باچا پهٔ ضد راووتل. د امان الله خان والیانو د هغهٔ نه پهٔ بار بار اجازت وغوښتو چې د باغیانو خلاف د پوځ استعمالولو اجازه ورکړي او دوي دومره توان لرلو چې دا ئې پهٔ اسانه رفع دفع کړے وے خو امان الله خان ورته پهٔ ځو ځو ځله ښکاره کړه چې زما د ذات د پاره زهٔ د یو افغان بچي وینه تویول نهٔ غوارم. هغهٔ ورته د طاقت د استعمال اجازه نهٔ ورکوله او دا ئې ورته ووئیل چې دا ناپوهه خلق دي، د ملايانو او د پېرنګي پهٔ لمسه دا هر ځۀ کوي؛ دوي د دې نه نا خبره دي چې دوي خپل کور او کلي ته تاوان رسوي.

امان الله خان پهٔ دې پوهېدو چې دا خلق د نوي اصلاحاتو خلاف دي – هغهٔ یو کوشش وکړو چې ځینې اصلاحات د خلقو د خواهش مطابق نافذ نهٔ کړي خو د پېرنګي پهٔ لمسه دا خلق دې ته تیار نهٔ وو. هلته پهٔ کابل کښې رشوتیانو او نور د امان الله نه خفه سرکاري ملازمینو د یو شوکمار کوه داماني چې تاریخ ئې د بچه سقا پهٔ نوم پېژني، سره ساز باز وکړل او ورسره ئې لوظ وکړو چې تهٔ راشه پهٔ کابل حمله وکړه، مونږ به درسره یو. امان الله خان پهٔ دې هر ځۀ ډېر زیات زړهٔ بدے ؤ. هغه د هر ځۀ نه خبر ؤ او اخر پهٔ څوارلسمه جنورۍ کال 1929ز ئې د تخت پرېښودو اراده وکړه. هغهٔ د باچاهۍ نه استعفې ورکړه او د خپلو بچو سره د کندهار پهٔ لور روان شو. پهٔ اپرېل کال 1929ز کښې ئې خپل خوږ وطن افغانستان د همېشه د پاره پرېښودو؛ راغلو ممبۍ ته او بیا د ممبۍ نه اټلۍ ته لاړو.

هغه چې ممبۍ کښې ؤ نو باچا خان ورسره ملاقات ته لاړو. د دې ملاقات ټول تفصیلات باچا خان پهٔ خپل یو مضمون کښې چې سر خط ئې د 'شاه امان الله خان سره ملاقات' ؤ، کړے دے او دا مضمون د 'پښتون' د جولائي کال 1929ز پهٔ ګڼه کښې شائع شوے دے. باچا خان د امان الله خان نه تپوس وکړو چې دے ولې خپل وطن پرېښودو باندې مجبوره شو، وې ووئیل:

> 'نن پهٔ افغانستان کښې خانه جنګي ده. پهٔ کار ده چې هلته ستاسو لۀ پاره تبلیغ وشي او ستاسو خوبۍ خلقو ته وښودلې شي چې خلق بیا ستاسو طرف ته رجوع وکړي.'

امان الله خان ورته پهٔ جواب کښې ووئیل:

> 'بس زما کار ختم شو. ما لس کاله د دې قام خدمت وکړو – پهٔ دې لس کالو کښې ما پهٔ وخت ډوډۍ نهٔ ده خوړلې. د سحر نه تر ماښام پورې ما کار کړے دے. د خپلې ښځې زامنو نه خبر نهٔ شوم. د شپې به بیا هم د دې قام پهٔ فکر کښې وم چې دوي به څنګه ترقي وکړي. د دې پهٔ صله کښې زهٔ قوم قادیانے او کافر کړم. زهٔ د خپل ځان د پاره هېڅ قسم پروپېګنډه او تبلیغ نهٔ غوارم؛ نهٔ ئې پهٔ خپله کوم او نهٔ چا ته وایم چې زما د پاره دې وکړي. زهٔ به رښتیا وایم چې د هغې بادشاهۍ نه اوس ډېر پهٔ ارام یم – زمینداري به کوم او خپله ګزاره به کوم، خداے رازق دے.'
>
> 'پښتون'، جولائي 1929، مخونه 43-44

هغه پهٔ خپل ژوند بیا افغانستان ته نهٔ دے راغلے. دا لوے ملي قهرمان پهٔ سوئټزرلېنډ کښې پهٔ شپږ ویشتم اپرېل کال 1940 پهٔ حق

ورسېدو. پهٔ مجموعي طور سره هغهٔ اووهٔ دېرش (37) کاله پهٔ شاهي کورنۍ او باچاهۍ کښې تېر کړل او يو دېرش (31) کاله ئې پهٔ غريبۍ کښې پهٔ اټلي کښې تېر کړل. دا يو دېرش کاله ځان له يو جدا داستان دے. دا ډېر دردناک تاريخ دے – هغه بنده چې ټول عمر ئې پهٔ شاهي ماڼۍ کښې تېر کړے وي، پهٔ هغهٔ چې کله د ژوند سختۍ راغلې نو بيا ئې هم خپله پښتو او افغان غېرت نهٔ دے پرېښودے؛ چا ته ئې د حاجت مندۍ لاس نهٔ دے وړاندې کړے، خپله کر کرونده ئې کوله او کله چې به ئې مېرمنې ژوبل لاسونو ته وکتل او د سترګو نه به ئې ښې واره اوښکې رواني شوې نو امان الله خان به ورته ووئيل چې زما پهٔ ګران هېواد افغانستان کښې پهٔ زرګونو دهقانان او بزرګران داسې ژوند تېروي نو زه ئې ولې نهٔ شم تېرولے. پهٔ خپله پهٔ نره باندې خپلو بچو ته پهٔ دهقانۍ کښې روزي پېدا کوم، ولې چا ته منت او زاري وکړم؟

يقيناً چې افغانانو د دې لوے قهرمان قدر ونهٔ کړو. هغهٔ پهٔ ځان د ارام ژوند د خپل هېواد او اولس د پاره حرام کړے ؤ او دوي د هغهٔ هېڅ قدر ونهٔ کړو.

نن چې پهٔ افغانستان کښې د استقلال د جنګ د ګټلو او ازادۍ اخستو سلمه کليزه نمانځلې کېږي نو دا هر څهٔ د مېړني امان الله خان برکت دے. د هغهٔ کهٔ هر څومره ستائينه وکړې شي، هغه لږه ده. هم د هغهٔ پهٔ برکت افغانستان سل کاله وړاندې ازادي تر لاسه کړه. د هغهٔ د قربانيو او د هلو ځلو حق يقيناً چې نهٔ دے ادا شوے خو کم از کم دومره وړوکے غوندې کوشش مې وکړو چې د امير امان الله خان حق ادا کړم.

ہم نے تمہیں قبیلوں میں تقسیم کیا تا کہ پہچانے جا سکو (سورۃ الحجرات، آیت ۱۳)

روزنامہ

# شہباز

پشاور

DAILY **SHAHBAZ** PESHAWAR

وہ خبریں جن کا سننا جنات گوارہ نہیں کرتے، وہ خبریں جن کو سنسر کیا جاتا ہے، وہ خبریں جن کو روکا جاتا ہے؛

امن، جمہوریت، تعلیم و ترقی اور عوام کی خبریں؛

وہ خبریں جو آپ سے متعلق ہیں، وہ خبریں جو آپ کے مسائل کی نشاندہی کرتی ہیں، وہ خبریں جو آپ کے مسائل کے حل کے بارے میں ہوتی ہیں؛

آپ کی خبریں آپ کے اپنے اخبار میں پڑھئے، روزنامہ شہباز میں پڑھئے!

امن کا بیانیہ، عدم تشدد کا بیانیہ، جمہوریت کا بیانیہ، پارلیمان کی بالادستی کا بیانیہ،
سماجی و صنفی مساوات کا بیانیہ، آزادیٔ اظہار رائے کا بیانیہ اور انسان دوست بیانیہ
متبادل بیانئے کی تشریح کرتے نامور علما، ماہرین، منورین اور صحافیوں کے کالم،
اداریے، تبصرے اور تجزیے

ایڈیٹر: عامر عالم


باچاخان پوهنتون چارسده کښې د نورو طبیعي او سماجي علومو بېلابېلو څانګو کښې د بي اېس، اېم فل
او پي اېچ ډي داخلو سره په ورومبي ځل د بي اېس پښتو داخلې هم پېل شوې. هم نن د داخلې فارم ترلاسه کړئ!
www.bkuc.edu.pk 091-65400117 Ext. 231



په خدمت کښې اختلاف نشته، اختلاف د خود غرضۍ نه پېدا کېږي

ATA
انتخابات
2019
خېبر پښتونخوا

عوامي نېشنل پارټۍ تل په امن پسې تعلیم خپله دوېمه ترجیح ساتلې ده. د عوامي نېشنل پارټۍ په حکومتي دوره کښې چې د پرائمرۍ نه واخله تر د اعلې تعلیم پورې کومه خصوصي پاملرنه شوې ده، د استاذانو تربیتي پروګرامونه، په سائنسي طریقه د کاریکولم جوړولو تابیا، د سکولونو، کالجونو او یونیورسټیو جوړولو او د استاذانو د کېډرونو او تنخاګانو په حقله کوم کامونه پوره شوي وو، دا د تاریخ برخه ده. د دې نه مخکښې مثال ؤ او نه به ئې د اے اېن پي نه بغېر بیا څوک وکړے شي.

د ټولې پښتونخوا استاذان دې د ملګري استاذان انتخابي پېنل ته ووټ ورکړي.

**اسلام الدین خان**
د صوبائي صدارت کاندید

**ډاکټر ناصر الدین خان**
د صوبائي جنرل سېکرټري کاندید

**حاجي سرفراز خان**
د ضلع چارسدې د صدارت کاندید

**ثمین جان**
د ضلع چارسدې د جنرل سېکرټري کاندید

**سهېل احمد**
د تحصیل چارسدې د صدارت کاندید

**احسان علي**
د تحصیل چارسدې د جنرل سېکرټري کاندید